## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**11حمل_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| ۱۵۹ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود | 1 |
| بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند | 1 |
| بیش از ۱۰۰ خانواده، در ولایت سرپل کمک شد | 1 |
| صد ها خانواده در ولایت غور کمک نقدی بدست آوردند | 2 |
| صد ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک های نقدی و خوراکی دریافت نمودند | 3 |
| یونان: د روان کال له پیل راهیسي تر ۱۰۰۰ زیات کډوال د یونان ګاودوس ټاپو ته اوښتي | 4 |
| د فرانسي مون ژنېور سیمه کي په یوه موټر کي ۸ مهاجر موندل شوي | 7 |
| انګلیس کانال: برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر ریکارډ کچې ته رسېدلی | 8 |
| گارد ساحلی اسپانیا ۱۲۴ مهاجر را در نزدیکی جزایر قناری نجات داد | 11 |


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## ۱۵۹ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۱۵۹ تن مهاجر افغان به تاریخ ۸ حمل از خط فرضی تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۲۰ خانواده که شامل ۱۱۰ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت و بعد از ثبت ریاست مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۸ خانواده شامل ۴۹ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی شدند.**

## بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

**یک هزار و ۷۵۵ نفر مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۸ حمل ازطریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.**

**به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۴۶۵ تن ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.**

**۶۹ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۶۶ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی، برای ۱۴۴ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.**

**و تعداد ۸۴ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.**

## بیش از ۱۰۰ خانواده، در ولایت سرپل کمک شد

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



برای ۱۱۷ خانواده برگشت کننده اجباری در ولایت سرپل کمک نقدی بتاریخ ۸ حمل توزیع شد.

خانواده های مذکور قبلاً از طرف اداره امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند.

کمک یاد شده در کتگوری های مختلف مبالغ ۸ هزار، ۱۰ هزار، ۱۵ هزار، و ۲۳ هزار افغانی همراه با یک بسته صحی شامل ۱۳ قلم از جانب سازمان بین المللی مهاجرت توزیع شد.

## صد ها خانواده در ولایت غور کمک نقدی بدست آوردند

ویب سایت وزارت




**برای ۹۵۰ خانواده در ولایت غور کمک نقدی بتاریخ ۸ حمل توزیع شد**

**خانواده های شامل بیجاشده و عودت کننده بوده که قبلاً از طرف آمریت امور مهاجرین وعودت کننده گان آن ولایت مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**برای هر خانواده مبلغ ۱۳ هزار و ۷۰۰ افغانی کمک موسسه ARAA توزیع شد.**

## صد ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک های نقدی و خوراکی دریافت نمودند

**ویب سایت وزارت**

**برای ۶۴۹ خانواده، در ولایت ننگرهار کمک خوراکی و نقدی بتاریخ ۸ حمل توزیع شد.**

**خانواده ها شامل برگشت کننده گان بوده که قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، در نواحی شهر جلال آباد مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک متذکره شامل ۲ قلم مواد خوراکی ومبلغ ۳ هزار و ۲۰۰ افغانی کمک سازمان جهانی خوراک بود که با نظارت امور مهاجرین توزیع شد.**

## یونان: د روان کال له پیل راهیسي تر ۱۰۰۰ زیات کډوال د یونان گاودوس ټاپو ته اوښتي

مهاجرنیوز




**د روان کال له پیل راهیسي شاوخوا ۱۱۸۰ کډوال د یونان کوچني گاودوس ټاپو ته رسېدلي دي. دغه ټاپو چې یوازې ۷۰ اوسېدونکي لري وایي نور د کډوالو ظرفیت نه لري. په ورته مهال د ملگرو ملتونو سازمان وایي گاودوس کې د هرکلي مرکز نشته نو ځکه ستونزې پکې زیاتې دي.**

**گاودوس هغه کوچنی ټاپو دی چې د یونان د کرېټ په جنوب کې موقعیت لري او دمگړی د کډوالی له څپو سره مخ دی. د روان کال له پیل راهیسې زیات شمېر کډوال د لیبیا له سواحلو او په ځانگړې توگه له طبرق څخه دغه ټاپو ته د اوښتو هڅه کوي.**

**د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو اداری د شمېرو له مخې، په تېرو درېو میاشتو کې ۱۱۸۸ مصري، پاکستاني او بنگله دېشي وگړي گاودوس ته اوښتي دي. یوازې د مارچ په ۱۳مه ۹۱ کډوال په کښتیو کې یاد ټاپو ورسېدل. د ځایي رسنیو په حواله، یوه اونی مخکې ۲۸۰ تنه نور گاودوس ته رسېدلي وو.**


**دغه ټاپو ۳۰ کیلومتره مربع پراخوالی او ۷۰ اوسېدونکي لري چې په دله کې یې یوازې دوه ماشومان کورنی شته. د گاودوس ښاروالی لیلیان ستېفاناکي گاردین ته ویلي دي: «پاتې نور بوډاگان دي چې ډېری یې یوازې ژوند کوي».**

**په ۲۰۲۳ کې ۸۶۰ کسان گاودوس ته رسېدلي وو**

**خو د ملگرو ملتونو اداری له مخې، د ۲۰۲۳ په لومړیو درېو میاشتو کې یو مهاجر هم گاودوس ته نه و اوښتی. خو بشپړ کال کې بیا ۸۶۰ کسان گاودوس ته په رسېدو بریالي شوي وو.**

دغه ټاپوګی یو ښوونځی، یو نانوایي او دوه مغازې لري .هلته د کډوالو د هرکلي مرکز نشته. یونان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري ویاندې ستېلا نانو کډوال نیوز ته وایي: «د هرکلي مرکز نشتوالی زیاتې ستونزې جوړوي«.

د ګاودوس ښاروالې بیا رویترز ته ویلي چې د روانې مارچ میاشتې له ۹مې راهیسې د کډوالو کښتۍ هره ورځ یاد ټاپو ته رسېږي. هغې زیاته کړې ده: »دا یو اضافي بار دی. موږ یو کوچنی ټاپو یو، کافي امکانات، خوراکي توکي او مغازې نه لرو. بودیجه مو کمه ده«.




ګاودوس ټاپو

»خرابه هوا کې د کډوال انتقال ممکن نه دی«

د ملګرو ملتونو سازمان ویاند ستېلا نان وایي: «موږ د یونان له مرکزي او ځایي چارواکو سره اړیکه لرو. دمګړی کډوالو ته لومړنی اسانتیاوې لکه کمپله، بسترې او روغتیایي وسایل ورکوو«.

ډېری دغه کډوال بلافاصله کرېت او وروسته مرکزي یونان ته استول کېږي. ستېلا نانو وایي: «دوی رتیمون او هراکلیون بندرونو او یا د کانې بندر یوه مرکز کې ځای پر ځای کېږي. خو خرابه هوا کې یې له ګاودوس څخه انتقال ممکن نه دی، دوی اړ دي چې همدلته خوب وکړي.» خو کوم ځای کې؟ د رویترز د خبر له مخې، کډوال په یوه ویجاړه وداني کې شپې سبا کوي.

په دغه ټاپو کې یوازې یو پولیس شته چې د امنیت د ساتلو دنده لري. هغه ګاردین ته ویلي دي: «حیرانوونکی وضعیت دی... دوی تنکي ځوانان دي، یوه نیمه ورځ په داسې کښتیو کې سفر کوي چې د دومره کسانو د انتقال ظرفیت نه لري».



په دغه کښتۍ کې چې په ۲۰۲۲ کې کرېټ ته ورسېدله شاوخوا ۵۰۰ کډوال سپآره ول. انځور: رویترز

»د کډوالۍ فشار«

ډېری وختونه هغه کښتۍ چې له لیبیا څخه حرکت کوي ایټالیا ته ځي. خو اتن وېره لري چې ښایي ګاودوس د مهاجرت پر نوي مسیر بدل شي.

د روان کال د جنورۍ په ۲۸مه یوه کښتۍ چې د ۲۰ ماشومانو په ګډون ۷۴ کډوال پکې سپاره ول د ګاودوس ترېپیتي ساحل ته ورسېدله. د جنورۍ په ۲۰مه ۱۴۹ کسان د ګاودوس ساحلي اوبو کې وژغورل شول. یوې ډنمارکۍ سوداګریزې کښتۍ یاد کډوال په سمندر کې موندلي او کالي لیمني بندر ته یې انتقال کړي وو.

ډېری دغه کډوال له طبرق څخه راځي چې له مصر سره ګډ سرحد لري. د یونان کډوالۍ وزارت کې د دولت منشي صوفیا وولتېپسي وایي: «موږ د کرېټ په سوېل کې د کډوالۍ د ځېو تر فشار لاندې یو«.

دمګړۍ ګڼ شمېر مصریان د اقتصادي کړکېچ له امله لومړی لیبیا او ورپسې اروپایي هېوادونو ته د تګ هڅه کوي .اروپایي ټولنې د مارچ په ۱۷مه له مصر سره د ۷ اعشاریه ۴ میلیارده یورو په ارزښت د همکارۍ تړون لاسلیک کړ. بروکسل غواړي چې په دې توګه د پولو او په ځانګړې توګه له غزې او سوډان سره د ګډو سوېلي سرحداتو ساتنه وکړي او د نورو احتمالي کډوالو مخه ونیسي.

## د فرانسې مون ژنېور سیمه کې په یوه موټر کې ۸ مهاجر مونډل شوي

مهاجرنیوز



له ایټالیا سره پر پوله د فرانسې په مون ژنبور سیمه کې ۸ کډوال وروسته له هغه په یوه موټر کې وموندل شول چې موټر چلوونکي د تلاشۍ له یوې پوستې څخه د تېښتې هڅه وکړه.

د فرانسې امنیتي ځواکونو د چهارشنبې په شپه د مارچ په ۲۷مه له ایټالیا سره پر پوله د اوت آلپ په مون ژنبور غرنیزه سیمه کې په یوه موټر کې ۸ بې اسناده کډوال ومونډل. د موټر چلوونکی چې د تلاشۍ پوسته کې یې د خپل موټر له درولو ډډه وکړه له سیمې څخه په تېښته بریالی شوی.

په دغه موټر کې چې له سړک څخه منحرف شوی و ۸ کډوال ځای پر ځای شوي وو. پولیسو د موندل شویو کسانو هویت لا نه دی په ډاګه کړی.


د فرانسې د ګپ جمهوریت څارنوالي ماریون بوکوي لوزاکومور رسنیو ته ویلي دي چې یاد کډوال «نظارت خونه کې دي خو موټروان چې پرې د انساني قاچاق شک کېږي په تېښته بریالی شوی». په وینا یې «پر دغه کس پسې لټون په جدي توګه روان دی.«



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د ایټالیا او فرانسې ترمنځ پوله. انځور: کډوال نیوز**

**د یادولو ده چې د ۲۰۲۳ په اګست میاشت کې د یو ځوان کډوال مړی د مون ژنېور په کوتل کې موندل شوی و. هغه مهال د ګپ ځارنوالۍ ویلي وو چې داسې ښکاري چې دغه کس «په وروستیو کې» مړ شوی او پر بدن یې «د تاوتریخوالي یا د شخړې نښه نښانې» نه لیدل کېږي.**

**دا هم ولولئ**
**د فرانسې او ایټالیا پر پوله د یوه مهاجر مړی موندل شوی**

**د سازمانونو په خبره، د ۲۰۲۳ د پسرلي څخه د ډوبې تر پایه پورې د هغو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی و چې د مونژنزېور په ګډون یې پر غرنیزو لارو له ایټالیا څخه فرانسې ته د اوښتو هڅه کوله.**

**بریانسون سرحدي ښار کې د تراس سولیدر سازمان مسول لوک مارچلو د ۲۰۲۳ په اګست میاشت کې رسنیو ته ویلي وو چې هره ورځ «له ۳۰ څخه تر ۴۰ کډوال» دغه مرکز ته مراجعه کوي او شمېر یې ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دی.**

## انګلیس کانال: بریتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر ریکارډ کچې ته رسېدلی

مهاجرنیوز




**د روان کال له پیل راهیسې تر ۴۶۰۰ زیاتو کډوالو د انګلیس کانال د خطرناکو اوبو له لارې ځانونه بریتانیا ته رسولي دي. دغه شمېرې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی ښیي .**

**بریتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر نوې ریکارډ کچې ته رسېدلی دی. د بریتانیا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د روان کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې ۴۶۴۴ کډوال په کوچنیو کښتۍ کې بریتانیا ته په رسېدو بریالي شوي دي. دغه شمېرې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۰ سلنه ډېروالی ښیي. د ۲۰۲۳ په لومړیو دربو میاشتو کې ۳۷۰۰ کډوال د اوبو له لارې بریتانیا ته اوښتي وو، خو د ۲۰۲۲ د جنورۍ تر مارچ میاشتې پورې بیا ۴۵۸۷ کډوال په وړو کښتیو کې بریتانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي وو .**

**د راپورونو له مخې، یوازې د مارچ د میاشتې په ۲۰مه په لسو کښتیو کې سپاره ۵۱۴ کډوال د سمندر له لارې بریتانیا ته ورسېدل چې دا په یوه ورځ کې بریتانیا ته د اوښتونکو کډوالو تر ټولو لوړ شمېر دی. د دغو مهاجرو په ډله کې یو تن یې په چاړه ټپي شوی و چې دوور بندر ته تر ښکته کېدو وروسته روغتون یووړل شو .**

**دا هم ولولئ**
**<u>فرانسه: په شمال کې د سېندونو له لارې بریتانیا ته د اوښتو هڅې زیاتې شوې</u>**




**Website:**

**Twitter:**

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**فرانسي سواحل**

**سمندر کې د ژغورنې عملیاتونه**

**بل لور ته فرانسوي چارواکي وايي چې په تېرو څو ورځو کې يې ياد کانال کې د کډوالو د ژغورنې يو شمېر عملیاتونه ترسره کړي دي. د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ په خبره، پرون چهارشنبه وا پلاژ کې ۵۳ کډوال له هغه وروسته وژغورل شول چې د کښتۍ ماشين يې اوبو کې دننه له کاره ولوېد. ياد کډوال بولونی سور مېر بندر ته تر انتقال وروسته سرحدي پولیسو ته وسپارل شول.**

**چارواکو همدارنګه اوبو ته د يوه غورځېدلي کډوال د ژغورلو لپاره د پېښې ځای ته يوه کښتۍ واستوله. د مارچ په ۲۰مه بيا ګرېولين کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۱۳ کډوال ژغورل شوي وو .**

**د برېتانيا حکومت د کښتيو له لارې برېتانيا ته د کډوالو د سفرونو مخنيوی خپل لومړيتوب بولي. خو د سختو تدابيرو او <u>بېلابېلو مخنيوونکو اقداماتو</u> سره سره لا هم زيات شمېر مهاجر د انګليس کانال له لارې برېتانيا ته د اوښتو هڅه کوي. رونډا ته د کډوالو استونه د برېتانيا د پخواني لومړي وزير بوريس جانسون پروژه وه چې هېڅکله عملي نه شوه. د برېتانيا مشرانو جرګې د مارچ په ۲۰مه يو ځل بيا دغه پروژه رد کړه. تمه ده چې ياده لايحه به د اپريل په ۲۵مه يو ځل بيا ولسي جرګې ته واستول شي .**

**دا هم ولولئ**
**<u>راپور: امنيتي ځواکونه انګليس کانال کې د کډوالو د کښتيو د مخنيوي لپاره خطرناک مانورونه کړي</u>**

## گارد ساحلی اسپانیا ۱۲۴ مهاجر را در نزدیکی جزایر قناری نجات داد

مهاجرنیوز




گارد ساحلی اسپانیا روز پنجشنبه ۱۲۴ مهاجر را از دو قایق چوبی در برابر جزایر قناری نجات داد .به گفته وزارت داخله اسپانیا میزان مهاجرت از این مسیر در مقایسه با سال گذشته افزایش داشته است .

دو کودک خوردسال و فردی که از چوکی چرخدار استفاده می کرد، در شمول نجات یافتگان بودند.

به گزارش صلیب سرخ اسپانیا، یکی از این دو قایق که حامل ۶۶ تن بود، ۱۰ مایل دریایی از جنوب گران کاناریا فاصله داشت. قایق دوم با ۵۸ سرنشین به شمول دو زن در نزدیکی این جزیره پیدا شد.

به گفته آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا «فرانتکس»، اقیانوس اطلس تا جزایر قناری در حال حاضر پرازدحام ترین مسیر برای مهاجرت غیرقانونی از افریقای غربی تا اتحادیه اروپا است .

**در همین زمینه**
**بیش از ۴۰۰ مهاجر به شمول ۵۸ فرد خوردسال به جزایر قناری رسیدند**

وزارت داخله اسپانیا در این ماه گفت که شمار افرادی که از تاریخ ۱ جنوری تا ۱۵ مارچ این سفر خطرناک را انجام داده اند به ۱۲ هزار و ۳۹۳ تن رسیده است. در حالی که در سال گذشته در همین دوره شمار این گروه از مهاجران به ۲ هزار و ۱۷۸ تن می رسید.

نزدیک ترین بخش مجمع الجزایر قناری حدود ۱۰۰ مایل (۱۶۰ کیلومتر) از افریقای غربی فاصله دارد. همه مهاجران نجات یافته به گران کاناریا انتقال یافتند.

خبرنامه